# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د اپرېل لومړۍ | دویم کال| ۳۵۵مه گڼه


## تازه سروې:

# ۵۲ سلنه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي



۳

ولې پر جگړه ټینگار؟

۲ مخ

د افغان حکومت او امریکا ترمنځ را ټوکېدونکې بې‌باوري

۲ مخ

کوچنې جلغوزي او ژوړې دوستۍ

۳ مخ

## امریکایي رسنۍ: د امریکا د هوایي ځواکونو تکتیکونه په افغانستان کې کار نه ورکوي

ځینې لوېدیځې رسنۍ او امریکایي لیکوالان د ډونالډ ټرمپ د حکومت له خوا د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره د نوې تگلارې تر اعلانېدو وروسته، وخت ناوخت د افغانستان د وضعیت او د ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو د ډېرېدو د پایلو په اړه لیکنې او ارزونې خپروي.
په دې لړ کې د «ډېفنس ون» په نوم امریکایۍ وېبپاڼې په یوه لیکنه کې ویلي، چې د امریکا د هوایي ځواکونو بریدونه په افغانستان کې کار نه ورکوي.

دې وېبپاڼې تېره اونۍ په کندوز کې په دغه ډول یوه هوایي برید کې د ښځو او ماشومانو په گډون، د ۱۳ ملکي وگړو وژل کېدو ته په اشارې لیکلي، چې د دوی حکومت لا هم په ناسم لوري گامونه اخلي. سرچینې دغه راز ویلي، چې په تېرو اتلسو کلونو کې په امریکا کې د درېو بدلو شویو ولسمشرانو د حکومتونو تېروتنه دا ده، چې په افغانستان کې حقایق نه درک کوي او له پوځي لارو د سیاسي کړکېچ د حل هڅه کوي.
وېبپاڼې وړاندې لیکلي چې له اتلس کاله جگړې وروسته، په افغانستان کې ملکي مرگ‌ژوبله تر ټولې لوړې کچې ته رسېدلې او پوځي تلفات هم د اندېښنې وړ دي، چې په ورځ کې تر ۴۰ رسېږي.
سرچینې زیاته کړې: «ملکي مرگ‌ژوبله تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلې. زموږ هوایي جگړه په ډراماټیکه توگه سخته شوې او دغه کار امریکایي سرتېري هم له خطر سره مخ کړي. د امریکا د تاریخ دې تر ټولو اوږدې جگړې، چې هم له مالي او هم له ځاني اړخه ډېره گرانه پرېوتې؛ تر اوسه د افغانستان لپاره د یوې باثباته سولې په خبر هېڅ لاس ته راوړنه نه ده درلودلې».

## د سولې د روانو هڅو د همغږۍ لپاره د یوې واحدې رهبرۍ د ایجاد لپاره مشورې روانې دي




۵ مخ


هېواد
۴ مخ

## پاپوا نیوگیني

پاپوا نیوگیني د طبیعي زېرمو د لرلو له امله، یو شتمن هېواد دی، خو د کانونو ډېر ژور موقعیت، ترانسپورټي ستونزو او د اقتصادي بنسټونو لوړ لگښت له دغو طبیعي زېرمو څخه گټه اخیستنه گرانه کړې ده.



## تېر کال له کندهاره د ۱۸۰ میلیونو ډالرو په ارزښت وچه او تازه مېوه بهر ته صادره شوې ده




له کندهار څخه د ۱۸۰ میلیونو ډالرو په ارزښت ۱۲۴ زره ټنه وچه او تازه مېوه بهر ته صادره شوې، چې د تېر په پرتله په کې ۴۰ سلنه ډېروالی راغلی دی.
د کندهار د سوداگرۍ خونې مرستیال انجنیر عبدالباقي بینا ویلي، چې تېر کال له کندهاره بهر ته د وچې او لندې مېوې په صادراتو کې ۴۰ سلنه ډېروالی راغلی دی.
نوموړي زیاته کړې: ((سږ کال له کندهاره د ۱۴۰ میلیونو ډالرو په ارزښت ۳۶ زره ټنه وچه مېوه، د ۱۶،۶ میلیونو ډالرو په ارزښت ۷۳ زره ټنه لنده مېوه، د ۱۷،۷ میلیونو ډالرو په ارزښت اووه زره ټنه طبي بوټي، د ۳،۷ میلیونو ډالرو په ارزښت شپږ زره ټنه حبوبات، د دوو میلیونو ډالرو په ارزښت وړۍ، پشمي تار، د څارویو پوستکي او قیمتي ډبرې بهر ته صادر شوي دي.))

## معاون اول رئیس‌جمهور هنوز هم در نشست‌های کابینه شرکت نمی‌کند



جنرال عبدالرشید دوستم، معاون نخست رئیس جمهور با آن که در حدود ده ماه می‌شود که از ترکیه به کشور برگشته‌است، هنوز هم در نشست‌های کابینه شرکت نمی کند.
نزدیکان آقای دوستم دربارهٔ علت شرکت نکردن معاون نخست ریاست‌جمهوری در نشست‌های کابینه می گویند که در این باره ریاست‌جمهوری باید توضیح بدهد.
عبدالرشید دوستم، پس از انتخابات ۲۰۱۴ به‌عنوان معاون نخست رئیس‌جمهور غنی چندماه معدودی به دفتر کارش رفت؛ اما پس از بالاگرفتن تنش‌ها میان او و احمد ایشجی، والی پیشین ولایت جوزجان، او به ترکیه رفت و برای چهارده ماه در آن‌جا بود. او در ماه اسد سال ۱۳۹۷ به کابل برگشت.
نزدیکان آقای دوستم می‌گویند که از آن زمان تاکنون در نشست‌های کابینه حضور ندارد. به گفتهٔ آنان، از آغاز حکومت برای دوستم اجازهٔ فعالیت داده نشده است.
عبدالله قرلق، معاون حزب جنبش ملی اسلامی گفته است: «این ارتباط می گیرد به جناب رئیس صاحب جمهور! می‌شود که از جناب رئیس صاحب جمهور در این راستا پرسیده شود».
آقای دوستم، به روز جمعه (۹ حمل) از ازبکستان به افغانستان برگشت و پس از دوسال به ولایت بلخ سفر کرد. سفری که برایش او جنجالی بود. طالبان کاروان موترهای اورا در مسیر شاهراه شبرغان – مزار کمین زدند و یک محافظ وی را کشتند و دو محافظ دیگرش را زخمی ساختند.
جنرال عبدالرشید دوستم، در انتخابات ریاست‌جمهوری پیشرو از تیم انتخاباتی رئیس‌جمهور غنی جدا شده‌است و به گروه عبدالله عبدالله پیوسته‌است.

## درېځ

# ولې پر جګړه ټینګار؟

څو میاشتې کېږي چې د سولې خبرې روانې دي. که څه هم اوربند نه دی شوی، خو خلک تمه لري چې د سولې خبرې به د دې سبب شي چې د جګړې شدت را کم شي. اوس داسې ښکاري چې څومره چې د سولې خبرې ګرمېږي، ورسره د جګړې شدت هم زیاتېږي. تازه په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو له سرپرستانو او د ملي امنیت له رییس سره ګډه غونډه کړې ده. د کورنیو چارو سرپرست وزیر ویلي، تر سولې به جګړه کوي او په دې غونډه کې هم پر همدې چاره خبرې شوې دي.

اوس داسې ښکاري چې د خلکو د تمې خلاف نه یوازې دا چې جګړه کمېږي نه، بلکې زیاتېږي. په دې وروستیو ورځو کې له بدخشان، تخار، بغلان، کندوز، فاریاب، هلمند، اروزګان، زابل او ګڼو نورو ولایتونو د سختو جګړو رپوټونه ورکړل شوي دي چې پکې ګڼو امنیتي ځواکونو او طالبانو ته مرګ ژوبلې اوښتې ده. له دې سره په یوه وخت لا هم د ګډو ځواکونو شپني عملیات روان دي چې پکې نږدې هره شپه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې خبرونه هم ورکول کېږي.

ښایي یو لامل دا وي چې ښکېل لوري په جګړه کې د فشار له لارې غواړي ځان برلاسی وښیي او ډېر امتیاز تر لاسه کړي، خو دا چاره له شک پرته پر سوله، د سولې پر هڅو او پایلو ناوړه اغېزې کوي. اوس په کلیوالو سیمو کې وسله وال طالبان تر فشار لاندې دي او که فشار همداسې وي او د سولې خبرې کومه پایله ونه لري، نو دوی به پر خپلو مشرانو فشار راوړي او ترې وبه غواړي چې دا خبرې ودروي. د وحشت او جګړې هر ګام د سولې پر ضد ګام دی، نو دا فکر سم نه دی چې د فشار له لارې به مقابل لوری د داسې غوښتنو منلو ته اړ شي چې پخوا یې منلو ته تیار نه و. دا جګړه او فشارونه اتلس کاله روان وو، خو نه یوازې دا چې کوم لوری یې کمزوری نه کړ، بلکې د سولې پر وړاندې یې خنډونه زیات کړل او ډېر افغانان یې تر خاورو لاندې کړ. له همدې امله دا ناسم فکر دی او په ښکاره د سولې ضد هڅه ورته ویل کېدای شي.

اوس چې خلیلزاد په کابل کې دی او ټاکل شوې چې څو ورځې وروسته قطر ته ورشي او هلته خبرې پیل کړي، نو د خبرو یو بنسټیز ټکی باید اوربند او د جګړې د شدت را کمول وي. که اوس اوربند نه کېږي، نو لږ تر لږه د جګړې شدت خو دې را کم شي او یا دې د جګړې شدت نور نه زیاتېږي. وسله وال طالبان، حکومت او امریکایان که رښتیا سوله غواړي، نو لومړنی ګام یې باید همدا وي چې د جګړې شدت را کم کړي، د حسن نیت په خاطر دې نور ګامونه واخلي او ډېر ژر دې اوربند ته لاره هم هواره کړي. له دې پرته پر جګړه ټینګار او د وحشت زیاتول د سولې ضد هڅه ده او یوازې د سولې دښمنان پکې ګټه کوي.

# د افغان حکومت او امریکا ترمنځ را ټوکېدونکې بې‌باوري

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

څو ورځې وړاندې (۱۳۹۷ لمریز کال د کب په ۲۳مه) د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب په واشنګټن کې د افغان سولې لپاره د امریکا پر ځانګړي استازي، زلمي خلیلزاد تندې نیوکې وکړې. نوموړي پر خلیلزاد تور پورې کړ، چې غواړي د خپلو شخصي ګټو لپاره د سولې له روان بهیر څخه افغان حکومت څنډې ته کړي؛ خو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت دا ډول څرګندونې د کابل ـ واشنګټن د اړیکو او افغان سولې بهیر په زیان وبللې او له کبله یې حمدالله محب احضار کړ.

په همدې تړاو رویټرز خبري اژانس بیا د ځینو سرچینو په حواله ویلي، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال ډېویډ هیل له ولسمشر غني سره ټلیفوني خبرې کړې او ورته ویلي یې دي، چې ”له دې وروسته په واشنګټن کې له محب څخه هر کلی نه کېږي او متحده ایالات نه غواړي له هغه سره په کابل او یا واشنګټن کې همکاري ولري.“

د حمدالله محب له لوري د افغان سولې په تړوا د امریکا پر درېځ نیوکې او پر خلیلزاد د واک طلبۍ تورونه، داسې مهال دي، چې د امریکا ـ طالبانو ترمنځ د سولې په خبرو اترو کې افغان حکومت ځای نه لري او له دې پروسې ناخوښ دی.

دلته مو د امریکا په اړه د ملي یووالي حکومت پر بهرنۍ سیاست، د کابل ـ واشنګټن د اړیکو پر خرابوالي او د دواړو لورو د اړیکو پر راتلونکي بحث کړی دی.

**دواشنګټن پر لور د کابل بهرنۍ سیاست**

که څه هم د حامد کرزي د ولسمشرۍ په وروستیو کلونو کې د کابل ـ واشنګټن اړیکې ترینګلې وې؛ خو د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وروسته دغه اړیکې د تېر په پرتله خورا ښې شوې او ولسمشر غني ارګ ته تر رسېدو وروسته، د خپل کار په لومړیو ۲۴ ساعتونو کې، له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ.

د کابل ـ واشنګټن د اړیکو له ښه کېدو سره، په ۲۰۱٦ ز کال کې د امریکا ولسمشر بارک اوباما له افغانستانه د خپلو سرتېرو د ایستلو مهالوېش بدل کړ او په افغانستان کې یې تر ۲۰۱۷ ز کال پورې د ۸۴۰۰ امریکایي سرتېرو د پاتې کېدو اعلان وکړ. له هغه وړاندې پلان داسې و، چې په افغانستان کې به د ۲۰۱٦ ز کال تر پایه یوازې ۵۵۰۰ امریکایي سرتېري پاتې کېږي.

له اوباما وروسته په امریکا کې د ډونالډ ټرمپ له ولسمشر کېدو سره، شاوخوا اته میاشتې د افغانستان په تړاو د امریکا تګلاره مبهمه پاتې شوه. که څه هم په دې موده کې افغان حکومت د امریکا د راتلونکې تګلارې په اړه اندېښمن او ناخبره و؛ خو د ټرمپ د افغان تګلارې له اعلان وروسته، چې تر ډېره یې پر جګړه تمرکز درلود، د کابل اندېښنې له منځه ولاړې او د امریکا له دې تګلارې یې تود هرکلی وکړ.

د افغانستان په تړاو د امریکا د نوې پوځي تګلارې له اعلان سره سم، افغان حکومت خپل بهرنی سیاست تر ډېره له همدې تګلارې سره په همغږۍ مخته یوړ او دا د دې لامل هم شو، چې افغان حکومت د سیمې د هېوادونو ترمنځ خپل بهرنی سیاست، متوازن ونه شي ساتلی. ځکه دا تګلاره که له یوې خوا په سیمه کې د افغان حکومت او هند له تګلارو سره همغږې وه؛ خو له بلې خوا بیا د ځینو نورو هېوادونو، لکه پاکستان، ایران، روسیې او چین د خوښې خلاف وه.

د افغان حکومت امریکا محوره بهرنی سیاست د دې لامل شو، چې د سولې په تړاو د ولسمشر غني د سیمه‌ییزې اجماع جوړولو طرحه هم سر وخوري. دغه راز د ملي یووالي حکومت، واشنګټن ته دومره نږدې شو چې د امریکا له نوې تګلارې سره سم یې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو په هر جنایت سترګې پټې او چوپتیا غوره کړه.

د ټرمپ له افغان تګلارې سره هوایي بمبارۍ په بې‌سارې توګه زیاتې شوې، د خلکو کورونه، مدرسې، جوماتونه او ان د افغان امنیتي ځواکونو پوستې په وار وار بمبار شوې؛ خو افغان حکومت پرې هېڅکله غبرګون ونه ښود. تازه چې امریکا د جګړې پر ځای له طالبانو سره د خبرو لاره غوره کړې، افغان حکومت ترې ناخوښ دی او له امله یې د کابل ـ واشنګټن اړیکې هم د بې‌باورۍ پر پوله ولاړې ښکاري.

**د کابل او واشنګټن ترمنځ بې‌باوري**

د ملي یووالي حکومت پر مهال د افغان جګړې په تړاو د امریکا د تګلارې له بدلون سره سم (د جګړې پر ځای له طالبانو سره خبرې او له افغانستانه د پوځیانو ایستل) دا لومړی ځل دی، چې د کابل ـ واشنګټن ترمنځ اړیکې د ترینګلتیا له ګواښ سره مخ کېږي.

ولسمشر غني له طالبانو سره د سولې په برخه کې د پام وړ هلې ځلې وکړې؛ خو طالبانو بیا تل له افغان حکومت سره نه، بلکې له امریکا سره د سولې پر خبرو ټینګار کړی. امریکا که څه هم ډېره هڅه وکړه، چې طالبان د جګړې په ډګر کې مات کړي؛ خو تېرو ۱۸ کلونو وښوده چې جګړه یوه ناکامه تجربه ده. له همدې امله یې د افغانستان په تړاو خپله تګلاره بدله کړه او له طالبانو سره یې د خبرو اترو لاره غوره کړه.

دا چې د ولسمشر غني هیله وه، څو طالبان هم د حزب اسلامي (حکمتیار) په شان له حکومت سره خبرو ته کېني؛ خو د غوښتنې خلاف یې امریکا له طالبانو سره خبرې پیل کړې او افغان حکومت یې څنډې ته پرېښود، له همدې کبله له دغو خبرو ناخوښ او اندېښمن دی.

امریکا د افغان سولې په تړاو زلمی خلیلزاد خپل ځانګړی استازی وټاکه. نوموړي له طالبانو سره د سولې په موخه مخامخ خبرې پیل او تر دې دمه یې پنځه رسمي ناستې ورسره کړې دي. د دغو خبرو په لومړیو کې ولسمشر غني ویل، چې ”د سولې په برخه کې د امریکا روانې هڅې زموږ د سولې د پروګرام یوه برخه ده او مالکیت یې د افغان دولت تر چتر لاندې دی“؛ خو کله چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د خبرو په لړ کې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو د هوکړې ګنګوسې زیاتې شوې، ورسره د افغان حکومت اندېښنې هم زیاتې شوې. ولسمشر غني ټرمپ ته د یوه لیک په استولو سره هڅه وکړه، چې امریکا له افغانستانه د خپلو ټولو سرتېرو د ایستلو پرېکړه ونه کړي. دغه راز نوموړي وروسته بیا په یوه مرکه وویل، چې هېڅ بهرنی لوری اجازه نه لري چې د افغانستان د سولې په تړاو تصمیم ونیسي.

د غني له خبرو وروسته، په وروستیو کې د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب هم په واشنګټن کې له خبریالانو سره په خبرو کې د افغان سولې لپاره د امریکا پر ځانګړي استازي نیوکې وکړې او په ښکاره یې د امریکا او طالبانو ترمنځ د روانو خبرو مخالفت وکړ. نوموړي زلمی خلیلزاد د افغان حکومت د څنډې ته کولو، مشروعیت اخیستلو او طالبانو ته پر مشروعیت ورکولو تورن کړ. نوموړي دغه راز پر خلیلزاد تور پورې کړ، چې هڅه کوي داسې یوه لنډمهاله اداره رامنځته شي، چې مشري یې دې دی (خلیلزاد) په خپله وکړي.

پر خلیلزاد د محب د نیوکو په تړاو د امریکا د بهرنیو چارو وزارت توند غبرګون وښود. د محب خبرې یې رد او پر خلیلزاد یې حمله، د امریکا د بهرنیو چارو پر وزارت حمله وګڼله. دغه راز په هېواد کې دننه هم اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم د محب څرګندونو ته په اشارې سره وویل، چې افغانستان په داسې ځای کې نه دی چې له نړیوالې ټولنې سره خپلې اړیکې خرابې کړي.

**د کابل-واشنګټن د اړیکو راتلونکی**

له طالبانو سره سوله، د افغانستان لپاره یوه مهمه او برخلیک ټاکونکې موضوع ده. افغان حکومت منحیث حکومت او د امریکا ستراتېژیک ملګری، د ځان حق بولي چې د دغې پروسې له څرنګوالي خبر او په بشپړ جریان کې وي.

د ملي یووالي حکومت پرمهال دا لومړی ځل دی، چې د کابل او واشنګټن ترمنځ اړیکې د ترینګلتیا له ګواښ سره مخ شوې دي. د پخواني ولسمشر حامد کرزي د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې د کابل ـ واشنګټن اړیکې، ظاهراً د امریکا له لوري د هوایي بمباریو، د ملکي خلکو مرګ‌ژوبلې او د جګړې د پراختیا له کبله ترینګلې شوې؛ خو د ملي یووالي حکومت پر مهال د اړیکو د ترینګلتیا عوامل بیا هوایي بمبارۍ او ملکي تلفات نه، بلکې نور دي. اوسمهال، په داسې حال کې چې ولسمشر اشرف غني د راتلونکو ټاکنو لپاره یو ځل بیا نوماند دی، داسې ښکاري چې د واک له لاسه ورکولو وېره لري او له همدې امله هڅې کوي، چې د سولې په خبرو کې خپل ځای مشخص کړي.

په قطر کې د طالبانو او امریکا د پنځمې ناستې په اړه ویل کېږي، چې دواړه لوري له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو او له ترهګرۍ سره د مبارزې پر موضوع هوکړې ته رسېدلي دي او په راتلونکې ناسته کې به په دې تړاو چمتو شوې مسوده هم لاسلیک کړي. که رښتیا هم په راتلونکې ناسته کې د افغان حکومت د استازو له حضور پرته دغه مسوده لاسلیک شي، د ملي یووالي حکومت به په دغه بهیر کې ځان بشپړ منزوي وګوري او د کابل-واشنګټن اړیکې به د لا ډېر خرابوالي پر لور ولاړې شي.

# ازبکستان: چمتو یو چې د بین الافغاني خبرو کوربه توب وکړو

ازبکستان ویلي، که طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته چمتووالی وښیي، دغه هېواد چمتو دی چې په سمرقند کې د دغو مذاکراتو کوربه توب وکړي.

دغه څرګندونې د ازبکستان د ملي امنیت شورا سلاکار ویکتور محمود دوف او د بهرنیو چارو وزیر عبدالعزیز کاملوف په کابل کې له افغان ولسمشر، محمد اشرف غني سره د لیدنې پر مهال کړې دي.

له ارګه په خپره شوې اعلامیه کې ویل شوي، چې ازبکستاني پلاوي د افغان حکومت په مشرۍ او مالکیت د سولې له بهیر څخه ملاتړ کړی او په دې برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ یې ورکړی دی.

دغه پلاوي ویلي: «په هغه صورت کې که طالبان له افغان حکومت سره مخامخ خبرو ته چمتووالی وښیي، ازبکستان چمتو دی چې په سمرقند کې د دغو مذاکراتو کوربه توب وکړي».

دا په داسې حال کې ده چې ازبکستان تر دې مخکې هم د افغان حکومت په مشرۍ، د سولې له بهیر څخه ملاتړ کړی او په دې اړه یې دوه ځله له افغان طالبانو سره کتلي دي.

وسله والو طالبانو د تېر ۱۳۹۷ لمریز کال په زمري میاشت کې تایید کړه، چې د قطر دفتر یو پلاوی ازبکستان ته تللی او له ازبک چارواکو سره یې پر ځینو مسایلو خبرې کړې دي. د همدغه کال په کب میاشت کې د افغانستان لپاره د ازبکستان ځانګړي استازي عصمت الله او د بهرنیو چارو وزیر عبدالعزیز کاملوف په قطر کې د طالبانو د سیاسي چارو له مرستیال، ملا عبدالغني برادر سره ولیدل.

څو میاشتې مخکې د ازبکستان په مرکز تاشکند کې د ۲۳ هېوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو په یو کنفرانس کې پر طالبانو غږ وکړ، چې د افغان حکومت د سولې وړاندیز ته مثبت ځواب ووایي.

په دغه کنفرانس کې پر دې ټینګار شوی و، چې د افغانستان په سوله کې به ټول اړخونه ګټونکي وي او دا معامله به هېڅ بایلونکی ونه لري.

# عامې روغتیا وزارت: هر کال نهه زره افغانان د نري رنځ له کبله مري

عامې روغتیا وزارت وايي، هر کال په نري رنځ یا توبرکلوز اخته نهه زره افغانان مري. د دغه وزارت د معلوماتو له مخې، په تېر ۲۰۰۴ زېږدیز کال کې دغه شمېر ۲۳ زره تنه و.

د عامې روغتیا وزیر، فیروزالدین فیروز تېره ورځ له نري رنځ ناروغۍ سره د مبارزې د نړیوالې ورځې په مناسبت غونډې ته ویلي، چې په تېر ۱۳۹۷ لمریز کال کې په افغانستان کې په نري رنځ د اخته کسانو، ۴۸ زره پېښې ثبت شوې دي.

فیروز زیاته کړې: «په ۲۰۰۴ میلادي کال کې چې کومو زموږ هېوادوالو د نري رنځ له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی و، شاوخوا ۲۳ زره تنه وو، خو سږ کال دغه شمېر نهه زره تنو ته راټیټ شوی دی».

د نوموړي په خبره، روغتیایي مرکزونو ته د خلکو د نه مراجعې او ځینو نورو ستونزو له امله لاهم په افغانستان کې، ۲۰ سلنه د نري رنځ پېښې نه ثبت کېږي.

نوموړي زیاته کړې: «د نري رنځ د تشخیص او درملنې مرکزونه تېر کال د دولت له خوا پراخ شول او یوازې په تېر کال کې د نري رنځ ناروغۍ د درملنې لپاره دوه زره ٦۲۷ روغتیایي مرکزونه جوړ شوي دي».

دا په داسې حال کې ده، چې تېر کال په افغانستان کې په نري رنځ د ۴۸ زرو کسانو اخته کېدو اندېښنې رامنځته کړې دي.

بلخوا د بشري حقونو خپلواک کمېسیون مشرې، سیما سمر په دغه غونډه کې ویلي، چې که چېرې په نري رنځ د اخته کسانو پر وخت درملنه ونه شي، دغه ناروغي به په افغانستان کې د تروریزم او جګړې په پرتله، د ډېرو خلکو ژوند واخلي.

په ورته وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان د نري رنځ یا توبرکلوز له ناروغۍ سره د مبارزې په نړیواله ورځ ویلي، چې لا هم ډېری افغانان پر دغه ناروغۍ د اخته کېدو او یا خپرېدو په اړه پوره پوهاوی نه لري.

د یادونې ده چې د مارچ ۲۴مه د نري رنځ یا توبرکلوز له ناروغۍ سره د مبارزې نړیواله ورځ ده، چې ملګري ملتونه یې لا هم د یوې مرګونې ناروغۍ په توګه یادوي.



# کوچني جلغوزي او ژورې دوستي

لیکنه: په افغانستان کې د چین لوی سفیر لیو جېن سونگ

د مارچ په ۲۸مه مې له ولسمشر محمد اشرف غني سره یو ځای د کابل په صنعتي سیمه کې د جلغوزیو یوې فابریکې د پرانیستې په مراسمو کې گډون وکړ. جلغوزي، د جلغوزو تولیدات او د جلغوزو ترانسپورټي الوتکې په جلا جلا توگه، د دوديزو کرنيزو چارو، د نړدې زماني د صنعتي چارو او عصري سوداگريو نښې دي. د دغو دريو اړينو خواوو په ادغاملو سره د افغانستان د سمسورتيا او قوي کېدو په اړه د يوې پېرۍ هيله څرگندېږي.

يو کال مخکې، ولسمشر محمد اشرف غني زما د باورليک د منلو په وخت کې هيله څرگنده کړه، چې د افغانستان لا زيات جلغوزي، زعفران، انار، غالۍ او مرمر ډېرې به چين ته صادر شي. ويل کېږي چې ولسمشر د خپل هېواد توليداتو لپاره بازار موندلو کې ډېر فعال او غوره پلورونکی دی، چې د بزگرانو د گټو او کاري فرصتونو د زياتوالي لپاره نه ستومانه کېدونکي کوښښونه کوي. ما په هغه وخت کې ويل، چې چين د دواړو هېوادونو ترمنځ د دوديزو دوستيو او د خپلو تگلارو له لوري غواړي له افغانستانه لا زيات ځانگړي توليدات وارد کړي. ما د يوې ټوکې په توگه ووېل، چې زياتې چارې لرو او په وار سره به تر سره شي. زما په نوم کې يوه کلمه شته چې (سونگ) ده، مانا يې د جلغوزي ونه ده، نو په دغه کال کې به هڅه وکړم چې چين ته د افغان جلغوزو د صادراتو چارې نورې هم په ښه توگه تر سره شي.

پايله يې ليدل کېږي چې د دواړو هېوادونو د رهبرانو تر پاملرنو او هڅونو لاندې کابو نيم کال وروسته، چين ته د افغان جلغوزو د صادراتو تړون لاسليک شو. د تېر کال په نومبر مياشت کې د ځانگړو الوتکو په وسيله چين ته د افغان جلغوزو د انتقال پروژې شروع شوې او په څلورو مياشتو کې د ٦٤ الوتکو په وسيله چين ته د څه باندې ۱۵ ميليونو امريکايي ډالرو په ارزښت جلغوزي صادر شوي دي. له دې څخه د چين موثريت او د چين او افغانستان ترمنځ دوستي څرگندېږي.

که څه هم تېر کال نړيوالې سوداگريزې معاملې کمزورې وې، خود چين او افغانستان ترمنځ د سوداگرو د زياتوالي انډول اووه ويشت سلنې ته رسېدلی، چې په دې ډله کې چين ته د افغانستان د صادراتو اندازه له ۲۴ ميليونو امريکايي ډالرو څخه زياته وه، چې دغه حجم د ۲۰۱۷ ز کال په پرتله، شپږ چنده زيات شوی و. دا د ليدو وړ لاسته راوړنې دي. موږ بايد د ولسمشر غني او رييس شي جين پينگ له لارښوونې او د اړوندو چارواکو او د صنعتي او سوداگريزو چارو د شخصيتونو له کوښښونو څخه منته وکړو.

سربېره پردې، نور ښه خبرونه شته. تېر کال په افغانستان کې د چين د مستقيمو پانگونو اندازه کابو لسو ميليونو امريکايي ډالرو ته رسېدله، چې دغه شمېر د ۲۰۱۷ ز کال په پرتله ۵۰ سلنه زيات شوی و. په ۲۰۱۸ ز کال کې د مالونو کابو ۲۰ اورگاډي او د مسافرو کابو ۴۷ الوتکو د دواړو هېوادونو ترمنځ تگ راتگ کړی دی، چې په دې کې د دواړو هېوادونو د خلکو، مالونو او مطبوعاتو په برخو کې تبادلې هم پياوړې شوې دي. د افغانستان توليدات په شانگهای کې د چين د وارداتو په لومړي ننداړتون کې د ننداړچيانو مينې او علاقې راجلبې کړې او زيات توليدات د ننداړتون په څوکيو کې په پوره توگه پلورل شوي دي. افغانستان به د يو کمربند او يوې لارې او د متقابل تگ راتگ په رڼا کې، يو بند ځمکنی هېواد پاتې نه شي او امکان شته چې افغانستان د مختلفو اقتصادي دهلېزونو محوري ټکی وگرځي. په دې مناسبت به د افغانستان ځانگړي توليدات د ارزښتونو په نړيوال ځنځير کې غوره ځای ونيسي.

د (eMarketer) په نوم د مشهور پلټونکي شرکت د اټکل له مخې، چين ښايي په روان کال کې په نړۍ کې د پرچون ډېر لوی بازار وگرځي او د دغه بازار عمومي اندازه به ۵۶۰۰ ميلياردو امريکايي ډالرو ته ورسېږي. چين به په راتلونکو پنځو کلونو کې له نورو هېوادونو او سيمو څخه د ۸۰۰۰ ميلياردو امريکايي ډالرو په ارزښت توليدات صادر کړي، د ٦۰۰ ميلياردو امريکايي ډالرو په ارزښت به بهرنۍ پانگې راجلبې کړي او په نورو هېوادونو او سيمو کې به د ۷۵۰ ميلياردو امريکايي ډالرو په ارزښت پانگې ولگوي. د اټکل له مخې به سږ کال د چين د کورنيو توليداتو د عمومي حجم د زياتوالي انډول، له شپږ سلنې څخه تر شپږ اعشاريه پنځه سلنې پورې وي. د چين اقتصاد په تېرو څو مياشتو کې په ثابته توگه پرمختگ کړی دی او په بازار کې اټکل او وړاندوينه د ښه کېدو په حال کې ده، چې د چين اقتصاد به د اوږدې مودې لپاره د ښه کېدو په حال کې وي او ثابت پرمختگ به ومومي. چين لا هم په نړۍ کې له ډېرو ثابتو اقتصادي ځواکونو څخه دی. دوې ورځې مخکې، ایټاليا له چين سره د يو کمربند او يوې لارې د گډې ابادۍ تړون لاسليک کړ او دواړو هېوادونو د ۲.۵ ميلياردو يورو په ارزښت تړون لاسليک کړ. له دې څخه د چين او بهرنيو بازارونو او چارو ترمنځ د متقابلو اړتياوو د پوره کولو او د يو کمربند او يوې لارې د گډې ابادۍ په برخو کې پټ قوتونه څرگندېږي. د چين د اصلاحاتو او ورخلاصون د ژورتيا، د چين او افغانستان ترمنځ د يو کمربند او يوې لارې د گډې ابادۍ د پياوړتيا او په افغانستان کې د سولې له ساتلو سره سم به نوې مرحلې ته د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي او سوداگريزې همکارۍ لا پياوړې شي.

جلغوزي ډېر کوچني دي او د سوداگرۍ حجم يې زيات نه دی، خو دا د زرگونو افغانانو له ژوند سره نږدې تړاو لري، د نړيوال اقتصاد د ورخلاصون او ازادېدو ښه ده او د ښه گاونډيتوب او گډو گټو پايله ده. کله چې چينايان د افغانستان خوندور جلغوزي وخوري او افغانان په دې مناسبت لا زياتې گټې واخلي، د دواړو هېوادونو د خلکو په زړونو کې به نه يوازې سوداگرۍ يادې شي، بلکې د وربښمو د نوې او لرغونې لارې پر غاړه به د دواړو هېوادونو ترمنځ د وروڼو په شان نږدې او ژورې اړيکې هم يادې شي. چين به په راتلونکي کې لا زيات افغان ځانگړتيا لرونکي توليدات وارد کړي، د توليداتو د ابتدايي چمتووالي د صنعتي چارو په برخه کې به له افغانستان سره مرسته وکړي، لا زيات افغان مسلکي شخصيتونه به وروزي او د افغانستان د سولې، ملي پخلاينې او د اقتصاد د بيارغونې د پياوړتيا لپاره به هڅې وکړي.

## تازه سروې:

# ۵۲ سلنه افغانان د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي



يوه تـازه سروې ښيي چـې لا هـم نيمايـي افغانـان د فقر تر کرښـې لانـدې ژوند کوي. سره لـه دې چـې د ملي يـووالي د حکومت مشرانـو پـه تېـره ولسـمشر غنـي د خپلـو ټاکنيـزو کمپاينونـو پـر مهـال د فقـر د لـه منځـه وړلـو او د خلکـو پـه دسـترخوان کـې د تغيـر راوسـتلو خبـره کوله، خو تـازه سروې ښـيي چـې نـږدې پنځـوس سـلنه افغانـان لـه خـورا ترينگلي اقتصـادي وضعيت سره مـخ دي او د فقـر تـر کرښـې لانـدې ژونـد کـوي. د دې سروې مونـدنې ښـيي چې ۵۲ سـلنه افغانـان بېوزلـه دي او د ژونـد لومړنيو اسـانتياوو تـه لاسرسـی نـه لـري.

د احصايـې او معلوماتـو ملـي اداري پـه افغانسـتان کـې د بېوزلـۍ پـه تـړاو د خپلـو مونـدنـو نتايـج تېـره ورځ لـه رسـنيو سره شريـک کـړل. د دې سروې لـه مخـې، دا مهـال د افغانسـتان ۵۲ سـلنه وگـړي د فقر تر کرښـې لانـدې ژوند کـوي او له مخې يې ۵۸ سـلنه بېوزلـه لـه ۱۸ کلونـو ټيـټ عمـره ماشـومان دي. د احصايـې او معلوماتو ملي اداري چارواکـي وايـي، چـې د افغانسـتان خلـک د ژونـد بېلابېلـو برخـو کـې د فقـر ښـکار دي. د دې اداري معين حسـيب الله موحـد وايـي، چـې فقـر پـه بېلابېلـو برخـو کـې د افغانانـو پـر ژونـد منفـي تاثيـر کـړی دی او تـر دې دمـه يې د لـه منځه وړلو لپاره عملـي شـوو تـگلارو گټـه نـه ده لرلـې.

د دې اداري د مونـدنـو لـه مخـې، پـه کوچيانـو کـې د څـو بعديـز فقـر کچـه لـوړه ده، چـې ۸۹ سـلنې تـه رسـېږي. پـه ټولـه کـې د افغانسـتان ۸۳ سـلنه وگـړي پـه څـو برخـو کـې د څـو بعديـزې بېوزلـۍ ښـکار دي.


د اقتصـاد وزيـر د فقـر ټولـو اړخونـو او ډولونـو پـر وړانـدې د مبـارزې ترڅنـگ، د نويـو پاليسـيو او سـتراتيژيو پـر تدويـن ټينـگار کـوي. مصطفـی مسـتور پـه همدې غونـډه کـې د خبـرو پـر مهـال وويـل، چـې دوی د اقتصـاد د ودې او فقر د لـه منځـه وړلـو لپـاره پلانونـه طرحـه کـړي دي او نوې سـتراتيژۍ به تدويـن کېږي. نومـوړي زياته کـړه: ((مـوږ نـن د څـو بعديـز فقـر موضوع مطالعـه کـوو. نو لـه همدې امله څـو بعديزو سـتراتيژيو تـه اړتيـا ده، چې دغه سـتونزه له منځـه يـوسي)).

پـه ورتـه وخـت کـې نړيـوال مرسـتندويه بنسـټونه پـه افغانسـتان کـې د فقـر کچـه ټـکان ورکوونکـې بـولي او لـه دې وضعيت نـه د وتلـو لپـاره د نويـو لارو چـارو د لټولـو غوښـتنه کـوي. پـه سوېلي اسـيا کـې د يونسـف د سـيمه ييـز دفتـر رييسـه جيـن گاوف وايـي: ((مـوږ پـه افغانسـتان کـې د فقـر د کچـې پـه اړه، پـه تېـره بيـا د بېوزلـه ماشـومانو پـه اړه چې ٦۰ سـلنې ته رسـېږي اندېښـنه لـرو)).

د اکسـفورډ پوهنتـون د بـشري پراختيـا د څانگـې رييسـه، سـبينا الکايـر بيـا وايـي، پـه افغانسـتان کـې څـو بعديـز فقـر د دغـه پدېـدې ژوروالـی ښـيي، نـو ځکـه بايـد د اغېزمنـو پاليسـيو او څارنـې لـه لارې دغـه پديـده ورکـه کـړل شي.

د دې سروې لـه مخـې، پـه پلازمېنـې کابـل کـې د فقـر کچـه ټيټـه ده، چـې ۱۲ سـلنه کېږي او پـه بادغيـس کـې د نـورو ولايتونـو پـه پرتلـه تـر ټولـو لـوړه ده، چـې ۸۱ سـلنې تـه رسـېږي. د بېوزلـۍ کچـې د زياتـوالي پـه تـړاو دغـه راپـور داسـې مهـال دی، چې د ملـي وحـدت حکومـت مشرانـو د بېوزلـۍ کچـې د کمولـو پـه برخـه کـې ډېـرې ژمنـې کـړې وې، خـو د دې سروې پايلـې ښـيي چـې حکومتـي مـشران د خپلـو ژمنـو پـه عملـي کولـو کـې بريـالي نـه وو.

## راپورونه: د وينزويلا د وضعيت په تړاو د امريکا او روسيې کړکېچ د ډېرېدو په حال کې دی



په وينزويلا کې د روان وضعيت له امله د روسيې او امريکا ترمنځ سياسي کړکېچ د زياتېدو په حال کې دی.

دغه کړکېچ وروسته له هغې زيات شو، چې د روسيې حکومت وړمه ورځ په وينزويلا کې د خپلو پوځيانو د حضور ملاتړ وکړ.

د وينزويلا لپاره د واشنگټن ځانگړي استازي، ايليوت ابرامز د تېرې جمعې په ورځ په واشنگټن کې خبريالانو ته ويلي وو، چې د امريکا حکومت اټکل کوي چې سل روسي پوځيان وينزويلا ته تللي دي.

ايليوت ويلي وو چې روسي پوځيان د وينزويلا د هوايي دفاع پر راکټي سيسټم، ايس ۳۰۰ کار کوي چې ښايي په وروستيو کې د برېښنا د نشتوالي له امله ضرر ورته رسېدلی وي. واشنگټن په وينزويلا کې د دغو پوځيانو د حضور غندنه کړې، خو د روسيې د بهرنيو چارو وزارت د واشنگټن اندېښنه رد کړې ده.

روسيې ويلي چې د پوځي متخصصانو يوه ډله يې د همکارۍ لپاره وينزويلا ته استولې ده. د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزارت وياندې ماريا زخاروا په يوه بيان کې ويلي: «روسيې کاراکاس ته د خپلو څارونکو د استولو هدف څرگند کړی دی. دا په پوځي ډلگيو پورې اړه نه لري».

دا په داسې حال کې ده چې د روسيې دوو پوځي الوتکو نږدې يوه اونۍ وړاندې، وينزويلا ته ځينې پوځيان او پوځي تجهيزات ولېږدول.

د امريکا د حکومت د ملي امنيت سلاکار، جان بولټن د تېرې جمعې په ورځ خبرداری ورکړ، چې بهرني لوبغاړي دې وينزويلا ته د خپلو پوځي پانگو له استولو ډډه وکړي.

د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم له روسيې غوښتي، چې خپل پوځيان له وينزويلا وباسي؛ خو مسکو ويلي چې روسي پوځيان به د اړتيا تر وخته هلته وي.

په ورته وخت کې د روسيې د وسلو صادراتي شرکت روسبورون اکسپورټ، د شنبې په ورځ ويلي، چې د پوځي هليکوپټرو د پيلوټانو د روزنې يو مرکز يې په وينزويلا کې پرانيستی دی.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د متحده ايالتونو په گډون، د نړۍ څه باندې پنځوسو هېوادونو په وينزويلا کې اپوزيسيون مشر، خوان گوايدو رسماً د دغه هېواد د جمهور رييس په توگه پېژندلی دی؛ خو روسيه او چين په وينزويلا کې د لانجمن ولسمشر نيکولاس مادورو ملاتړ کوي. د وينزويلا اپوزيسيون وايي چې مادورو د جمهور رييس په توگه مشروعيت بايللی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ ليکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: ميـراحمد يـاد


### اووم څپرکی
### خپل چاپېريال اداره کړئ
ځان بري ته جوړول




اوسني زياتره اجرائيوي مديران په دې پوهېدلي چې په رخصتيو او د شپې چې هره پېښه کېږي، دا د کارکوونکي په کاري ورځ مستقيم اغېز لري. د کوم انسان چې کورنی ژوند ښه وي، کاري ژوند يې تر هغو ښه وي، چې کورنی ژوند يې خپه او ستونزمن وي.
راځئ چې د جان ميلتون په نوم دوو همکارانو ته سر ورښکاره کړو، د هر يوه د رخصتۍ تېرولو معمول وگورو او پايلې يې وڅېړو:
په رخصتيو کې د (جان) رواني استراحت داسې وي: يوه شپه له هغو ښو ملگرو سره تېروي چې په ښه ځير يې ټاکلي دي. د سبا ورځې مازديگر هم له معمول سره سم تېروي، سينما ته ځي، کوم خيريه يا ټولنيز پروگرام ته ځي، يا ملگرو کره مېلمه کېږي. د شنبې په سهار مخې ته پراته کارونه کوي. ماسپښين بيا په خپل چم کې گرځي، ملگري او اشنايانويني او خپل پلانونه عملي کوي. څو ورځې مخکې يوه يکشنبه غره ته ختلی و. بله يکشنبه موزيم ته تللی و. که له ښاره وځي، مطلب يې د راتلونکي لپاره د ځمکې اخيستل وي.
د يکشنبې مازديگر ښه په ارام تېرېږي، جان پکې معمولاً کتاب لولي يا ورځپاڼې کې بوخت وي.
د جان رخصتۍ عموماً په شمېر او پلان شوي دي. زياتره کارونه يې ستړيا ختموي او له دې امله جان له اروايي پلوه ښه ارام دی.
د ميلتون رخصتۍ بيا لږې نامنظمې دي. پلان ورته نه لري. دی عموماً د جمعې په شپه ستړی وي. خو بيا هم ښځې ته وايي چې چېرته لاړ شو؟ خو پلان همدلته ختمېږي. ميلتون او مېرمن يې نه خلکو کره ډېر ځي او نه ورکره څوک ډېر راځي. ميلتون د شنبې په ورځ تر سهاره ويده وي او نوره ورځ بيا په نورو چارو بوخت وي. د شنبې په شپه عموماً کورنۍ سره تلويزيون گوري يا سينما ته ځي، (نور به څه وکړي نو؟) ميلتون د يکشنې شپه زياتره په خوب تېروي. د يکشنبې په ماسپښين (بيل او ميري) کره ځي يا ور کره دوی دواړه راځي. (بيل او ميري يوازينۍ ښځه او خاوند دي چې ميلتون او مېرمن يې ورسره منظم ويني.)
د ميلتون اونيزه رخصتۍ په ستړيا تېرېږي. د يکشنبې تر مازديگره ټوله کورنۍ په کور کې بنده او يو بل پرې بد لگېږي. يو بل سره ښکاره شخړه او سوک څپېړه نه کوي، خو رواني جنگ يې تر منځ روان وي.
په جان او ميلتون د دې دوو کورنيو د چاپېريالونو اغېز څه دی؟ په يوه يا دوو اونيو کې محسوس اغېز ښايي نه وي، خو په مياشتو او کلونو کې يې اغېز ژورېږي.
د جان د ژوند حالات دی ارامويي، نوې مفکورې ورکوي او فکر يې غوړوي. دی هغه ورزشکار ته ورته دی چې قوي خواړه خوري.
د ميلتون کورنی ژوند يې بيا له رواني پلوه نه ارامويي، د فکر ميکانيزم ته يې زيان اړوي او هغه ورزشکار ته ورته دی چې کمزوري خواړه خوري.
جان او ميلتون ښايي په يوه حالت کې نه وي، خو په راتلونکي کې د دواړو تر منځ لوی واټن رامنځته کېږي او جان به ترې مخکې کېږي.
عيني شاهدان به وايي: (جان تر ميلتون ډېر تکړه دی.)
خو موږ به وايو چې د دوی دواړو ترمنځ توپير اصلاً د دوی تکړه والي کې نه دی، بلکې ذهني خوړو کې دی.
بزگران پوهېږي چې که ځمکې ته ډېره سره (پارو) ورکړي، نو فصل يې ښه راځي، نو موږ که ښې پايلې غواړو، خپل ذهن ته بايد ډېر خواړه ورکړو.
تېره مياشت مې زه او مېرمن له پنځو نورو جوړو سره د يوه ملگري کور کې مېلمانه وو. ملگری مې د يوې لويې مغازې اجرائيوي مدير دی. زه او مېرمن مې تر نورو مېلمنو لږ ډېر پاتې شو. ماسره دا ښه فرصت و، ټوله شپه مې ذهن کې يوه خبره گرځېده او اوس مې ترې پوښتنه کولای شوی. ورته ومې ويل: (مېلمستيا ډېره ښه وه، خو په يوه خبره پوه نه شوم، ما ويل مېلمانه به زياتره د خرڅلاو د برخې وي، خو تا خو د هرې برخې خلک را غوښتي وو، يو ليکوال و، بل ډاکټر و، بل انجينر و، بل حسابدار و او يو پکې ښوونکی و.)
سړی مسک شو راته وويل: (ته رښتيا وايې، زه زياتره پلورونکي مېلمانه کوم، خو ما او هيلين (مېرمن) ته مې د نورو برخو له خلکو سره اړيکه ښه تنوع ده. زه تل دېته پام کوم چې يوازې هغه خلک مېلمانه نه کړم، د کومو چې لېوالتيا له موږ سره ورته وي، ځکه دا کار موږ په يوه زاړه او تلپاتې قالب پورې محدودوي.
بله دا چې زما کاروبار هم له خلکو سره دی. هره ورځ د بېلابېلو ډلو زرگونه کسان دوکان ته راځي، زه چې څومره ډېر خلک وپېژنم، څومره يې چې له ذوقونو او نظرياتو سره ډېر بلد شم، دومره يې د اړتيا وړ توکي ښه راوړی او دوی ته وړاندې کولای شم.)
دلته ستاسې د ټولنيزو اړيکو د ښه کولو لپاره څو لارې چارې راغلې دي:
١. له نويو ډلو سره راشه درشه وکړئ. که د ناستې پاستې اړيکه مو يوازې په وړې ډلې پورې محدوده کړه، نو خپگان او زړه تنگي به درکړي، بله دا چې ستاسې د بري پروگرام مو اړباسي چې ډېر خلک وپېژنئ. د دوو- دريو ډلو په پېژندلو د ټولنې د مطالعې هڅه داسې ده، لکه څوک چې په يوه واړه کتاب کې ټول رياضيات زده کوي.
نوي ملگري پيدا کړئ، له نويو سازمانونو سره يو ځای شئ، ټولنيزه کړۍ مو پراخه کړئ. بله دا چې په ناسته پاسته کې تنوع هم دومره گټوره ده، لکه په نورو برخو کې نوښت او تنوع، دا ژوند پراخوي او مناسب فکري خوارک رامنځته کوي.
دوام لري...

# پاپوا نيوگيني

حشمت الله نوري



پاپوا نيوگيني د ارام سمندر په لوېديځ کې د مرجان سيند په شمال لوېديځه څنډه او د سولومان د سيند په لوېديځ کې، د اندونيزيا د لوېديځ ايريان ولايت په ختيځ او د اسټراليا شمال لور ته، د ختيځ طول البلدونو د ۱۴۱ او ۱۵۱ او د جنوبي عرض البلدونو د صفر او لسو درجو ترمنځ موقعيت لري. د دغه هېواد ټول پراخوالی ۱۷۸۷۰۴ ميل مربع دی، چې له دې پلوه د نړۍ ۴۹ م لوی هېواد بلل کېږي.
د پاپوا نيوگيني شمال ته شمالي ارام سمندر، جنوب ته اسټراليا او د مرجان سيند، ختيځ ته د مرجان او د سولومان سيندونه او لوېديځ ته يې نيوگيني موقعيت لري.
پاپوا نيوگيني د ارام سمندر له اوبو سره د گاونډيتوب او د استوا له کرښې سره د نږدېوالي له امله، لنده او توده سمندري هوا لري.
د دغه هېواد پلازمېنه د مورسبي ښار دی او نفوس يې ټولټال څه کم نهو ميليونو کسانو ته رسېږي، چې په هر کيلومتر مربع سيمه کې يې ۱۴ کسان ژوند کوي.
د پاپوا نيوگيني ۲۵ سلنه وگړي په ښارونو او ۷۵ سله نور يې بيا په کليو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې، هره کورنۍ په ټول عمر کې يوازې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.
د دغه هېواد رسمي ژبې توک پسين، انگليسي او هري موتو چې دي، خو ليکدود يې بيا لاتيني دی.
پاپوا نيوگيني د اداري وېش له پلوه په ۱۸ ولايتونو او يوه کورواکه سيمه او يوه ولسوالۍ وېشل شوی دی. سوداو، وداو اڒتاب، اباو کوکودا، گونا، ايوما کرما او دارو يې مهم او مشهور ښارونه دي.
د دغه هېواد د حکومت ډول مشروطه پاچايي او پارلماني ولسواکي ده. د پاپوا نيوگيني نوی اساسي قانون د ۱۹۷۵ ز کال د سپټمبر په ۱٦مه نافذ شوی دی. دغه هېواد د انگلستان د ملکې په استازيتوب د يوه گورنر جنرال له خوا اداره کېږي. همدا اوس د پاپوا نيوگيني مشره د انگلستان ملکه دويمه اليزابت ده او گورنر جنرال يې باب او لومړی وزير يې بيا پيټر اونيل دی.
په پاپوا نيوگيني کې پاچايي ميراثي ده. د دغه هېواد گورنر جنرال د ولسي جرگې په وړانديز د پاچا له خوا ټاکل کېږي. په دغه هېواد کې هغه څوک د لومړي وزير په توگه ټاکل کېږي، چې په ولسي جرگه کې اکثريت ملاتړ ولري. د پاپوا نيوگيني د کابينې وزيران د گورنر جنرال له خوا د لومړي وزير په غوښتنه ټاکل کېږي. د دغه هېواد هر ولايت يوه اجرايوي جرگه لري، دا جرگه له دفاعي او بهرنيو اړيکو څخه پرته د خپل ولايت ټولې چارې تر سره کوي.
د پاپوا نيوگيني ولسي جرگه ۱۰۹ غړي لري، چې ۸۹ يې په عمومي ټاکنو او پاتې ۲۰ يې په سيمه ييزو ټاکنو کې د خلکو په خوښه د پنځو کلونو لپاره غوره کېږي. په دغه هېواد کې د رايې ورکولو سن ۱۸ کاله او رايه ورکول پکې عمومي دي.
ستره محکمه د پاپوا نيوگيني تر ټولو لوړ قضايي ارگان دی. د دغه هېواد قضايه سيسټم د اسټراليا د موډل له مخې جوړ شوی او انگليسي قوانين عملي کوي. د دغه هېواد قاضي القضات د دغه هېواد د ملي اجرايوي شورا په غوښتنه، د عدليې د وزير په وړانديز، د گورنر جنرال له خوا ټاکل کېږي.
د ملي اتحاد گوند، د پاپوا نيوگيني د يووالي گوند، د خلکو د عمل گوند او د خلکو ولسواکه غورځنگ د دغه هېواد لوی او نفوذ لرونکي گوندونه دي.
پاپوا نيوگيني د ۱۹۷۵ ز کال د ډسمبر په ۱٦مه د UN په مشرۍ، له اسټراليا خپلواکي واخيسته او هر کال د ډسمبر ۱٦مه په دغه هېواد کې د خپلواکۍ د ورځې په نوم نمانځل کېږي.
پاپوا نيوگيني د طبيعي زېرمو د لرلو له امله، يو شتمن هېواد دی، خو د کانونو ډېر ژور موقعيت، ترانسپورټي ستونزو او د اقتصادي بنسټونو لوړ لگښت له دغو طبيعي زېرمو څخه گټه اخيستنه گرانه کړې ده.
تېل، مس، سره زر او نور کاني مواد د دغه هېواد ۷۰ سلنه صادرات او نږدې ۳۰ سلنه ناخالص کورني توليدات جوړوي. پاپوا نيو گيني د ځمکې پر شنه کمربند باندې د موقعيت له امله، د سرو- سپينو او مسو ډېر بډايه کانونه لري.
په دې وروستيو کلونو کې په پاپوا نيوگيني کې گاز هم موندل شوي، چې ۲۲۷ بليون مترمکعب زېرمې لري. يو نړيوال کنسر سيوم چې څو امريکايي شرکتونه هم پکې شته، د دغه گاز د مايع کولو پر يوه ستره فابريکه کار کوي. اټکل کېږي چې دغه اوبلن گاز به په ۲۰۱۵ ز کال کې بازار ته وړاندې شي. دا پانگونه د پاپوا نيوگيني په تاريخ کې تر ټولو غټه او تر اوسه سارى نه لري.
د پاپوا نيوگيني د اقتصاد دولتي سکټور وړوکی دی، چې دې دولت طبيعي زېرمې باسي او بهر ته يې صادروي، خو د اقتصاد غټ سکټور په خلکو او خصوصي تشبيثاتو پورې اړه لري او ډېرو خلکو ته يې کار برابر کړی دی.
د پاپوا نيوگيني دولت هڅه کوي چې دومره ظرفيت ومومي، څو د دغه راز سترو پروژو په برخه کې شفافيت پياوړی او خلکو او نړيوالو تمويلوونکو او مالي موسساتو ته په وخت سم او کره حساب ورکړي.
د ناريالو د زړو پروسس، د ناريالو تېل، درې، موبلايل، فرينچر او نور لرگين شيان د تېلو، سرو او سپينو ايسټل، د تېلو او گازو چاڼ، پولاد، خوراکي توکي، استهلاکي توکي او لاسي کارونه د دغه هېواد مهم صنعتي فکټورونه دي.
د پاپوا نيوگيني پنځه سلنه ځمکه د کرلو وړ ده. د دغه هېواد پاتې نوره ځمکه ځنگلونو، غرونو، غونډيو، سيندونو، ښارونو او د استوگنې کليوالو سيمو نيولې ده. د پاپوا نيوگيني ۹۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور او د کبانو پر نيولو بوخت دي. له ۱۹۷۰ ز کال څخه د مخه، کرنه او ځنگلونه د دغه هېواد د اقتصاد د ملا تير بلل کېدل، خو د مسو، سرو او سپينو زرو له پيدايښت او صادراتو وروسته، د دغه هېواد په وضعه کې بدلون راغی. همدا اوس د دغه هېواد ۳۵ سلنه ناخالص کورني توليدات له کرنې څخه لاسته راځي.
لرگي، ربړ، د ناريالو تېل، د ناريالو پوډر، قهوه، چای، خواږه کچالو، وريجې، دارويي بوټي، غوښه، مېوې، سابه، لړ لبنيات او واښه د دغه هېواد د کرنې او څارويو مهم محصولات بلل کېږي.
مس، سره او سپين زر، لاجورد، نکل، د چينې لوښو د جوړولو خاوره، يورانيم، سکاره، تېل او گاز د دغه هېواد مهم کانونه دي، چې په ټوله کې د دغه هېواد د صادراتو ټوله کچه اته بليون ډالره او د وارداتو ټوله کچه يې بيا پنځو بليون ډالرو ته رسېږي.
اسټراليا، جاپان، امريکا، انگلستان او چين د پاپوا نيوگيني مهم تجارتي شريکان دي.
دغه هېواد ٦۰ هوايي ډگرونه لري، چې ۳۰ يې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي. د پاپوا نيوگيني د ټيليفون کود ۰۰٦۷۵ او د انټرنټ کود يې بيا پي جي دی، چې ټولټال يې ۳۰۰ سوه زره کسان انټرنټ ته لاسرسی لري.
د پاپوا نيوگيني له ۱۵ کلونو څخه د لوړ عمر لرونکي ۷۵ سلنه نارينه او ښځې په ليک او لوست پوهېږي. په دغه هېواد کې زده کړې له ٦- ۱۴ کلنو ماشومانو او تنکيو ځوانانو لپاره اجباري دي. دولت او خصوصي سکټور دواړه په گډه د ښوونې او روزنې لپاره په دغه هېواد کې کار کوي.
داسې ښکاري چې له ۲۰۰۰ تر ۳۰۰۰ ز کلونو مخکې، ځينو خلکو د اوسني پاپوا نيوگيني په ځنگلونو کې ژوند کاوه. له دې وروسته اسيايان ورو ورو د اندونيزيا له لارې پاپوا نيوگيني او بيا د سولومان وواناتو نيو کاليدونيا او فيجي ټاپوگانو ته لېږدېدلي دي.
په ۱۵۴۵ ز کال کې اسپانوي اورتيسن رتز د لومړني اروپايي په توگه، پاپوا نيوگيني ته ورسېد او دغه سيمه يې د افريقا له گيني سره د ورته والي له وجې، نيوگيني وبلله. په ۱٦۰٦ ز کال کې اروپايي تورز د نيوگيني نوم په پاپوا نيوگيني بدل کړ. د ۱۷مې او ۱۸مې پېړۍ په اوږدو کې ډېر اروپايي سيلانيان او ملاحان پاپوا نيوگيني ته لاړل. په ۱۸۲۸ ز کال کې هالنډيانو د دغه هېواد لوېديځه برخه د هند له خپلو مستعمرو سره يو ځای کړه.
په ۱۹۰٦ ز کال کې په پاپوا نيوگيني کې د انگلستان واکمني پای ته ورسېده او ځای يې اسټراليا ونيو. له لومړۍ نړيوالې جگړې وروسته، د اسټراليا پوځونو په پاپوا نيوگيني کې د جرمني اداري مرکز ونيو او د هېوادونو ټولنې د دغه هېواد ټوله اداره اسټراليا ته وسپارله، خو له دويمې نړيوالې جگړې وروسته، د پاپوا نيوگيني خلکو د خپلواکۍ هڅې پيل کړې.
مايکل توماس سومار د خلکو د پيوستون او خپلواکۍ سياسي گوند جوړ کړ. دغه گوند او نورو خلکو لومړی سياسي او ورو ورو وسله واله مبارزه پيل کړه، څو د پاپوا نيوگيني لپاره خپلواکي وگټي. په ۱۹٦۴ ز کال کې اسټراليا پاپوا نيوگيني ته لږ او په ۱۹۷۳ ز کال کې پوره کورواکي ورکړه او ځينې قوانين يې ورته جوړ کړل.
د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت د ستراتېژيکو اړيکو په کتاب کې، د دغه هېواد نوم نشته؛ نو داسې ښکاري چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړيکې نه لري.
له افغانستان څخه تر پاپوا نيو گيني هېواد پورې د هوا له لارې فاصله ۹۱۴۱ کيلومترو او همدا راز د کابل او پورټ مورسبي ښارونو ترمنځ د وخت توپير ۵:۳۰ ساعته دی.

همیانی

# اولاد په زړه خوږ په خوله تریخ نه؛ بلکې په خوله هم باید خوږ وي!

حمیدالله حمیدي

له ډېرو خلکو مې اورېدلي چې وايي، اولاد په زړه خوږ په خوله تریخ؛ خو زما په اند دا خبره په هېڅ ډول په منطق برابره نه ده. مینه هغه ده چې اظهار شي. پټه مینه یو اړخیزه پاتې کېږي او هېڅکله سړی کومې پایلې ته نه شي رسولی. که میندې او پلرونه له خپلو اولادونو سره مینه ونه کړي، په ژوند به خپل اولادونه یتیمان کړي.

کبدای شي په اوسنۍ موډرنه نړۍ کې لا هم ډېرى کسان په دې اند وي، چې د اولاد روزنه یوازې د مور پر غاړه ده او پلار مجبور دی، چې کورني لګښتونه پر غاړه واخلي او پوره یې کړي، خو څېړنو ثابته کړې چې د اولادونو په روزنه کې د پلار ونډه داسې څه نه ده، چې له پامه وغورځول شي. په دغه مطلب کې د اولاد په روزنه کې د مور او پلار پر ونډې بحث کوو.

موږ او تاسو درې ډوله میندې او پلرونه لرو چې په لاندې ډول دي:

۱- په لومړۍ ډله کې هغه میندې او پلرونه راځي، چې له خپلو ماشومانو سره کمه مینه کوي، خو برعکس ډېر یې تر څار لاندې نیولي وي، ورځنۍ چارې یې څاري او تنبه کوي یې.

۲- په دویمه ډله کې هغه والدین راځي، چې په دواړو برخو کې یې توازن ساتلی وي. مانا دا چې هم د خپلو اولادونو ورځنۍ چارې څاري، هم مینه ورکوي او هم یې زړونه ساتي.

۳- په دریيمه ډله کې بیا هغه میندې او پلرونه راځي، چې تر ډېره یې خپل ماشومان نازولي اموخته کړي وي. ورځنۍ چارې یې نه څاري، روزنې ته یې پاملرنه نه کوي؛ خو برعکس یې په مینه کې دومره افراط کړی وي، چې له سره یې پر اولادونو خبره اثر نه کوي، چې دغه ډول کړنې د ماشوم راتلونکی له ګواښ سره مخ کولی شي.



څه ډول چې ټولو ته جوته ده، پلار او مور دواړه د اولاد په سالمه روزنه کې مهم رول لري. میندې تر ډېره د خپل ماشوم د خوراک او څښاک په برخه کې بوختې وي، خو پلار بیا خپلې کورنۍ ته په روزۍ پیدا کولو بوخت وي او کله چې کور ته ځي، خپل ډېر وخت له اولادونو سره ساعت تېرۍ او لوبو ته ورکوي. څېړنو ثابته کړې چې ماشوم ډېر پر دې خوشاله وي، چې له خپلو پلرونو سره لوبې وکړي او هاخوا دېخوا ورسره وګرځي، خو کله چې خپه او غمجن وي، نو بیا خپلې مور ته پناه ور وړي. په دې وروستیو کې یوې څېړنې په ګوته کړې چې ۹۵ سلنه ځوانان هغه که نارینه وي او یا هم ښځینه، تر ډېره هڅه کوي چې د خپلو بریالیو همزولو په څېر وي، خو که له هغوی وپوښتل شي چې غواړې په راتلونکي کې څه وي، خپل مور او پلار یې د ځان لپاره الګو یا مخ بېلګه ټاکلي وي، چې دغه څه د اولاد او والدینو تر منځ نه جلا کېدونکې اړیکه په ګوته کوي.

**پلار هم باید د اولادونو پام ځان ته واړوي**

پلار ته پکار ده چې له زوی او لور سره د مینې توپیر ونه کړي. څه چې د خپل زوی لپاره خوښوي، لور ته یې هم باید خوښ کړي. په کومه کچه چې له زوی سره مینه کوي، لور ته یې هم باید هغه ډول مینه ورکړي. زموږ په سنتي ټولنه کې هغه اولادونه چې له ۱۶ کلنۍ پورته شي، تر ډېره یې د راز او نیاز کس خپله مور وي. دوی په پوره ډاډ او زړورتیا سره خپل رازونه له مور سره شریکوي او دوی له خپلو میندو سره پر هغه څه خبرې کوي، چې له پلار سره یې نه شي کولی، خو که له اولادونو سره څه ډول چې لازمه ده هسې چلند وشي او له ماشومتوب څخه تر ځوانۍ پورې ور سره یو ډول مینه وشي، کېدای شي مور او پلار دواړه اولاد ته د یوه نږدې ملګري په څېر و اوسي او راز و نیاز ور سره وکړي.

کله چې اولادونه له خپل پلار سره د مینې د اظهارولو لپاره په کوم کار لاس پورې کوي، پلار اړ دی چې مناسب ځواب ورته ولري، څو یې د خپل اولاد زړه لاس ته راوړی وي. د کلماتو رول هم ډېر مهم دی. ځینې پلرونه نه غواړي چې خپله مینه او احساسات له خپل اولاد، په تېره له زامنو سره شریک کړي، چې دا خپله د زوی او پلار تر منځ کرکې ته لمن وهي او د وخت په تېرېدو سره زیاتوالی مومي. کله چې اولادونه لویږي، بیا نو په اسانۍ سره نه شي کولی خپله مینه پلار ته ښکاره کړي، خو کولی شي له اوسنیو امکاناتو ګټه واخلي. د بېلګې په توګه، خپل پلار ته د ایمېل له لارې داسې یوه سندره واستوي چې پکې د پلار ستاینه شوې وي او په یو ډول خپله مینه ورته ثابته کړي. په دغه واړه څېز هم ستاسو پلرونه له کچې زیات خوشالېږي. کېدای شي تاسو ته دغه څه ارزښت ونه لري، خو پلرونو ته ډېر ارزښت لري.

**د خاوند او مېرمنې اړیکه هم پر اولادونو اغېز کوي**

څومره چې د مېړه او مېرمنې تر منځ اړیکه سمه وي، په هماغه کچه پر اولادونو هم مثبت اغېز کوي او روښانه راتلونکی به ولري. دا سمه ده چې د مېړه او مېرمنې تر منځ کله ناکله لفظي شخړې او د نظر اختلاف پیدا کېږي، خو دا بیا د دوی په پوهې پورې اړه لري، چې څه ډول د خپلو اولادونو په مخ کې اداب مراعات کړي. همدا ده چې اولادونه زده کوي چې څه ډول په راتلونکي کې په مخ کې پرتې ستونزې حل کړي او له ورځنیو چارو سره جوړجاړی وکړي.

دغه ډول، څومره چې د خاوند او مېرمنې تر منځ اړیکې خرابې وي، په هماغه کچه پر اولادونو منفي اغېز کوي او راتلونکی یې روښانه نه لیدل کېږي. د پلار عمر هم له اولادونو سره د مینې، لوبو او روزنې په برخه کې توپیر کوي. تر ډېره هغه پلرونه چې لا یې د ځوانۍ باغ تازه وي، خپلو اولادونو ته رسېدلی شي او مینه ور سره کوي، ورځنۍ چارې یې څاري او له خپلو اولادونو څخه وخت پر وخت ځان خبروي، خو کله چې د پلار عمر پخېږي او د اولادونو شمېر یې زیاتېږي، بیا یې دومره د زړه زور نه وي. اولادونه هم تر ډېره په دې وخت کې زړه نه ښه کوي چې پلار یې د ځوانۍ چمونه ورته وکړي.

## عبدالله: د سولې د روانو هڅو د همغږۍ لپاره د یوې واحدې رهبرۍ د ایجاد لپاره مشورې روانې دي

اجرایه رییس وايي چې د سولې د هڅو د همغږۍ لپاره د یوې واحدې رهبرۍ د ایجاد په اړه مشورې روانې دي.

عبدالله عبدالله چې تېره ورځ یې په کابل کې یوې غونډې ته وینا کوله، ویلي چې بحثونه روان دي، څو د دغو هڅو د همغږۍ لپاره واحده رهبري رامنځته شي.



عبدالله ویلي: «په دې ورځو- شپو کې بحثونه پر دې دي، ټولې هڅې چې د سولې لپاره کېږي، سره توحید شي او د همغږۍ لپاره یې یوه واحده رهبري ایجاد شي، څو د سولې په اړه د افغانستان د خلکو واحد غږ په راتلونکي کې ښه تمثیل شي. د افغانستان اکثریت خلک د دې غوښتونکي دي چې خپله راتلونکې د انتخاباتو له لارې وټاکي». نوموړي دغه راز ویلي چې اکثریت افغانان د سولې غوښتونکي دي او دوی نه غواړي چې ښېرته هغو تیارو ورځو ته چې د انسانانو حقونه پکې تر پښو لاندې کېدل، ور وګرځي. نوموړی دغه څرګندونې داسې مهال کوي، چې ورمه ورځ افغان ولسمشر له اجرایه رییس عبدالله عبدالله، پخواني ولسمشر حامد کرزي، دویم مرستیال سرور دانش، پخواني جهادي مشر عبد رب رسول سیاف او د سولې د عالي شورا له رییس کریم خلیلي سره کتلي او د سولې د پروسې په اړه یې له دوی سره مشورې کړې دي.

ولسمشر پر خپل ټوېټر لیکلي چې په دې برخه کې به له نورو سیاسیونو سره هم مشورې وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې افغان حکومت د تېر لمریز کال د لیندۍ په میاشت کې له طالبانو سره د حکومت د مذاکره کوونکي ۱۱ کسیز پلاوي نوملړ اعلان کړ.

په دغه نوملړ کې یو کس د عالمانو شورا، یو کس د ملي شورا او پاتې نهه تنه نور حکومتي چارواکي دي.

خو نږدې یوه میاشت وړاندې د ولسمشر ویاند هارون چخانسوري وویل، چې په دغه پلاوي کې د تغییراتو په اړه سلا مشورې پیل شوې دي. په قطر کې د امریکایي چارواکو او طالب استازو تر منځ د مذاکرو تر څنګ، د تېرې فبرورۍ په میاشت کې په مسکو کې د پخواني افغان ولسمشر حامد کرزي په ګډون، ځینو افغان سیاستوالو له طالب استازو سره وکتل او د سولې د پروسې په اړه یې خپل نظرونه سره شریک کړل.

د راپورونو له مخې، ټاکل شوې چې د افغان سیاستوالو او طالب استازو ترمنځ دویمه ناسته د اپرېل په ۱۳مه په قطر کې جوړه شي، تمه ده چې په دې بین الافغاني ناسته کې د حکومت استازي هم برخه واخلي.

## پوهنې وزارت: د جګړې ښکېلې خواوې دې د زده کوونکو ژوند ته جدي پام وکړي

پوهنې وزارت د جګړې له ټولو خواوو غوښتي چې د دغه وزارت د کارکوونکو او زده کوونکو امنیت ته جدي پام وکړي.

د دغه وزارت ویاندې نوریې نزهت پر امنیتي ځواکونو غږ کړی، چې امنیتي پوستې ښوونځیو ته له نږدې سیمو لرې کړي.



نوموړې ویلي: «دې مسئلې موږ سخت اندېښمن کړي یو، موږ یې په شدت غندو، موږ بیا هم د جګړې له ټولو خواوو غواړو چې د زده کوونکو، ښوونکو او ښوونځیو امنیت په پام کې ونیسي».

نزهت ویلي چې په افغانستان کې هره اونۍ پر زده کوونکو او د پوهنې وزارت پر کارکوونکو د بریدونو رپوټونه ور رسېږي. هغې ویلي چې د دوی کارکوونکي او زده کوونکي د جګړې او د نامسووله وسله والو ډلو د فعالیت له امله، تر جدي ګواښ لاندې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د راپورونو پر بنسټ، ورمه ورځ د غزني د اندړو ولسوالۍ د ملانوح بابا پر ښوونځي راکټ لګېدلی، چې د یاد ښوونځي څلور زده کوونکي پکې وژل شوي او تر لسو زیات ښوونکي او زده کوونکي پکې زخمیان شوي دي.

د غزني د والي ویاند عارف نوري ویلي، چې راکټ مخکې تر دې چې زده کوونکي ټولګیو ته ننوځي، د ښوونځي په انګړ کې لګېدلی دی.

بلخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دفتر په یوه بیان کې ویلي، چې زده کوونکي او ښوونځي باید مصؤن او په امن کې وي.

په بیان کې ویل شوي چې په جګړه کې ښکېلې خواوې باید ښوونځیو ته په نږدې سیمو کې له جګړې ډډه وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۵۰ |
| € | ۸۵,۴۰ |
| Rp. | ۵۳۳ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د بنه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۲مه | د ۲۰۱۹ د اپریل لومړی | دویم کال | ۳۵۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ۲۵ | ۳۰ | ۲٤ | ۳۳ |
| ۹ | ۱٦ | ۱۷ | ۱٤ | ۱۷ |

شرعي وختونهار ۰٤:۱۷ | لمر ختل ۰۵:٤۲ | ماسپښین ۱۱:۵۸ | مازیگر ۰۳:۳۱ | ماښام ۰٦:۱٤ | ماخوستن ۰۷:٤۰

## با گذشت یک ونیم ماه به پرونده‌های اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی رسیده‌گی نشده است




پس از حدود یک ونیم ماه از معرفی شدن اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخابات به لویه ځارنوالی، این نهاد می گوید که تا کنون به پرونده‌های این افراد رسیده‌گی نشده‌است.

لویه ځارنوالی می گوید که به علت گسترده گی اتهام‌های فساد در برابر اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی، رسیده‌گی به پرونده‌های آنان به وقت بیشتر نیاز دارد. این نهاد می گوید که اگر اتهام‌های فساد و استفاده سوء از صلاحیت‌ها دربارۀ این افراد ثابت شوند، مرکز عدلی و قضایی دربارۀ آن تصمیم خواهد گرفت.

جمشید رسولی، سخن گوی لویه ځارنوالی در این باره گفته است: «از این که از یک طرف مواردی که از طرف ارگان‌های کشفی به ځارنوالی سپرده شده و از جانب دیگر ادعاهایی که وجود داشت، یک اندازه نیاز به زمان داشت، تحقیقات بسیار به جدیت و قاطعیت ادامه دارد».

این در حالی است که رئیس‌جمهور غنی، به تاریخ ۲۳ماه دلو سال گذشته، پس از آن که قانون انتخابات تعدیل شد، اعضای کمیسیون مستقل انتخابات و رسیده‌گی به شکایت‌های انتخاباتی را برکنار و به لویه ځارنوالی معرفی کرد. ریاست‌جمهوری گفته‌است که این افراد به فساد مالی و سوء استفاده از صلاحیت‌های‌شان در انتخابات ولسی جرگه که در ۲۸ و ۲۹ماه میزان برگزار شد، متهم استند. آقای رسولی می‌افزاید که باگذشت هر روز بر اتهام‌های اعضای پیشین کمیسیون‌های انتخاباتی افزوده می‌شوند. همزمان با این، محمد عبدالله یک عضو کنونی کمیسیون مستقل انتخابات می گوید که ده‌ها کرسی در دارالانشاء این نهاد یا خالی استند و یا از سوی سرپرستان اداره می‌شوند. این عضو کمیسیون مستقل انتخابات، می‌افزاید که کرسی‌های دو معاون دارالانشاء و شماری از رئیسان این نهاد در ولایت‌ها نیز از سوی سرپرستان اداره می‌شوند.

نړۍ




انسان به تنهایی آسیب پذیر است، اما با یکپارچگی قوت بیشتری دارد. ما این توانایی را داریم که به حیث برادران در جامعه با خوشبختی زندگی کنیم. اتحاد یکی از اصول اساسی دین مبارک اسلام است. با پیروی از این اصل، ما همه در یک فضای برادری در کنار هم می باشیم.

## یوځای د سولې پر لور!

انسان به تنهایی آسیب پذیر است، اما با یکپارچگی قوت بیشتری دارد. ما این توانایی را داریم که به حیث برادران در جامعه با خوشبختی زندگی کنیم. اتحاد یکی از اصول اساسی دین مبارک اسلام است. با پیروی از این اصل، ما همه در یک فضای برادری در کنار هم می باشیم.

## همه باهم به سوی صلح!

یو سپین ږیری خپلو اولادونو ته د یووالي په اړه کیسه کوي
یک پیرمرد در مورد اتحاد به فرزندانش قصه می کند



یو لرګی په اسانۍ ماتیږي
یک چوب به آسانی می شکند



یو بنډل لرګي په اسانۍ نه ماتیږي. دا د یووالي زور دی
چند چوب یکجا به آسانی شکستانده نمی شود. این قدرت اتحاد است

